دهمغه شهادت است که مانجستیم
تا بر مردم گواه باشید و پیامبر صلی الله علیه وسلم شاهد گواه باشد

شهادت

ارګان مرکزي حزب اسلامي افغانستان

(٤) صفحه

شمارهٔ مسلسل (١٠٥١) سال هژدهم شماره (٣٨) سه شنبه (١٢) جدي ١٣٧٤ هـ .ش (١٢) شعبان المعظم ١٤١٦ هـ .ق (٢) جنوري ١٩٩٦ م

الهی لارښوونې

آخر څه دلیل دی چې تاسې دالله په لارکې دهغو بیوسی نارینه‌و ، ښځو اوماشومانو په خاطر نه جنګېږې چې کمزوري کړای شوي ، ترفشار لاندې نیول شوی دی او فریادونه کوی چې خدایه مونږ له دی وطنه چې اوسېدونکي یې ظالمان دي وباسې او له خپل لوری نه رمونږ کوم سرپرست او مرستندوی پیدا کړې

(النساء - ٧٥)

د روی دوآب په ولسوالی کی دکابل اداری دری تنه نور قوماندانان دحزب اسلامی سره یوځای شول

دکابل اداری دپلویانو دظلم اوتیری په نتیجه کی دچهارمغز سرای دسیمی په سل ګونو کورنی مهاجری شوی

سمنګان – دمرغومي ١١ مه :
دسمنګانوله ولایت څخه دحزب اسلامي دخواکونو یسوې خبري منبع دمخابروي تماس په ترڅ کي دشهادت خبریال ته وویل : د سمنګانو دولایت دروي دوآب په ولسوالي کي دکابل اداري دري تنه قوماندانان هریو امیر ملاظاهرحکیمي، رئیس امیرپاي او امیر حفیظ الله «کاشفي» له خپلو ٧٠ تنو وسله والو کسانو سره چې ٢ میله دهشکي ، ٢ میله دپیکاماشینداري او ٥ میله آرپي جي راکټونه ورسره وو دروي دوآب دولسوالي دحزب اسلامي دزوه وراوتکړه قوماندان غلام سخي سره یوځاي شوي دي.
دغه منبع زیاتوي چې : ددغو قوماندانانو سره په سل ګونو کورني دروي دوآب دولسوالي د چهار مغز سراي له سیمې، ځنه دمهاجرت دعالي شورا

(٤)مخ

طالبانو دملامشر دمرګ خبره پټه ساتلی وه

څه موده مخکی یی په ترینکوټ کی عامه فاتحه واخیستله شوه

کویټه – دجدي ١١ مه :
له کویټې څخه شهادت ته راغلي رپوټونه وائي چې بالاخره معلومه شوه چې په کابل کي طالبانو دنامتوقوماندان ملامشر دوژل کیدو خبره رښتیاده .
رپوټونه وائي چې له پلچرخي نه دعقبنشیني په وخت کي دهاوان ګولي په ملامشرلګیدلي وه اوپه همدې وجه تې جسد هم طالبانوته په لاس نه دي ورغلی .
رپوټونه زیاتوي چې څه موده دمخه دارزګان په ترینکوټ کي دطالبانو اوملامشر دکورني لـه خوادهغه فاتحه واخیستله شوه «دشهادت خبریال دهمدي رپوټونوله مخي لیکي چې دملامشر اصلي نوم ملامحمدصادق و اودي دطالبانو دغورځنګ د امیر ملامحمدعمر له

نوموړی دملامحمد عمر له ډیرو مهموکسانو څخه ؤ

خورامهموکسانو څخه و .
خبریال زیاتوي چې دطالبانو ددفاع تروزیرملامحمد وروسته چې په ګرشك کي ووژل شو دا دطالبانو د حرکت لپاره اوبه څانګړي ترګـه دملامحمدعمر لپاره دوهمه لویه ضایعه ده .
خبریال لیکي چې ملامشر دترینکوټ «دومرخم» دکلي اوسیدونکي و .

دقزل قلعه په بندرکی :

قوماندان محمد نبی له خپلو پنځو تنو مجاهدینو سره ووژل شو

کندز – دمرغومي ١١مه :
دکندزله ولایت څخه په رارسیدلو روستیو رپوټونو کي ویل کیږي چې دکندزدولایت دامام صاحب دولسوالي دقزل قلعې په بندرکي دمولوي محمدیونس خالص دتنظیم پورتن قوماندان محمدنبي له خپلو پنځوتنو مجاهدینوسره ووژل شوي دي .
دغه رپوټونه زیاتوي چې : قوماندان محمدنبي له خپلوپنځوتنومجاهدینو سره دقزل قلعه په بندرکي په یوه هوټل کي ډوډۍ په دوډي ناست و چې دنظار شورا اوتاجکي کمونستانوډله پلان له مخکي چې دنوموړي دوژلو لپاره جوړشوي ؤ حمله وشوه اوخپلوملګروسره په شهادت ورسیده

سناتور عبدالرحیم مندوخیل حین سخنرانی درکویته :

کشورهای بیګانه به اهداف خصمانه خود درافغانستان دست نخواهند یافت

کشورهای خارجی مسئول خونریزی درافغانستان اند

حق تعیین سرنوشت آیندهٔ افغانستان مخصوص افغانهاست

کویټه – ١٠ جدي :
ګروه « پختونخوا ملي عوامي پارټي » وسازمان محصلین پختونخوا به مناسبت تقبیح مداخلات پاکستان ، ایران ،عربستان سعودي وکشورهاي اروپایي در امور داخلي افغانستان روزیکشنبه راهپیمایي و اجتماع بزرګي درشهرکویټه برپانمودند .
به ګزارش روزنامه فرانتیرپست این راهپیمایي را سناتور عبدالرحیم مندوخیل معاون پختونخوا عوامي ملي پارټی وسناتور اکرم شاه سکرتر ا.ل این ګروه شخصاً رهبري میکردند.
مظاهره کنندګان شعارهایي علیه اداره استخبارات نظامي پاکستان (آی ایس آی) ، ایران ،عربستان سعودي زمزمه میکردند. این راهپیمایي که از ساختمان سکرتریت اول این ګروه آغازشد ،مظاهرکنندګان جاده هاي متعدد شهرکویټه راطي نمودند .
عبدالرحیم مندوخیل حین سخنراني درین اجتماع درنزدیکي دفتر مرکزي این ګروه ، پاکستان ، ایران، عربستان

ص(٤)

طالبان رهایی اسرای روسی را به تأخیر انداختند

تلاش های روسیه تاکنون بی نتیجه مانده است

مسکو – ١٠ جدي :
جنبش طالبان که هفت تن عمله یك طیاره روسي را در بازداشت خود دارند رهایي آنها را تاموعد نامعین به تاخیرانداخته است .
روزنامه نیوز به نقل ازاظهارات وزارت خارجه روسیه به خبرګزاري انترفکس باشرایټ خبرمي نویسد یك ګروهي متشکل از دیپلومسات هاي روسي روزیکشنبه بعدازسپري نمودن چندین روز درامارات متحده عربي وارد مسکوشده ومنتظر پروازیه جانب قندهار بخاطر انجام مذاکرات باطالبان انـد . مقامات رسمي مسکو اظهارداشته اند کـه هنوز جنبش طالبان بابرګزاري مذاکرات باهیئت روسي توافق نکرده است .
اندري کوزیروف وزیرخارجه روسیه درنظرداشت به صوب قندهارپرواز کند و

ص(٤)

پاکستان خواهان بازګشت داوطلبانه مهاجرین افغان به کشور شان میباشد

تاکنون میان مهاجرین ومردم پاکستان حادثه ناګواری روی نداده است

پشاور – ١٠ جدي :
حکومت پاکستان آرزو دارد تا مهاجرین افغان بطور رضاکارانه و داوطلبانه دوباره به کشورخویش عودت کنند .
این مطلب را افتاب شیرپاو وزیراعلی ایالت سرحد، پاکستان هنګام ملاقات بامنسوبین ومحصلین دوربیست وچهاره کورس بریبتي یك دانشګاه قواي بحري درپشاور ابراز داشته است .
وي ګفته اسـت که نقش مردم صوبه سرحد درپناه دادن بـه مهاجرین وآنهم درشرایط وحالات بیبارمشکل نهایت قابل قدر است زیراتګهداري یك ملیون وسه صدهزار مهاجروآنهم درمدت بیش ازپانزده سال که یك مدت طولاني است ، کارنهایت بزرګ و مشکلي بود که حکومت وملت پاکستان آنرا باسعه صدروحوصله زیاد باوجرد مشکلات فراوان اقتصادي انجام داده وتاکنون میان مهاجرین ومردم محلي هیچ ګونه واقعه ناسیمون رخ نداده است .
آفتاب شیرپاودرادامه سخنانش. افزود

ص(٤)

درګفتګوباحکمتیار وشورای مشرقی پیشرفت های خوبی بدست امده است

مذاکرات مابا جنرال دوستم همه جانبه ومفید بود

اداره کابل روی اعزام هیئات به قندهار راغورمینماید

عزیز مراد

بلند پایه به شمول داکترعبدالرحمن مذاکرات همه جانبه ومفیدي باجنرال دوستم داشتند که ازماه جنوري سال ١٩٩٤ تاکنون بااداره کابل درګیري هاي خونین داشته است .

ص(٤)

نقل از مقامات رسمي درکابل مي نویسد : عزیزمراد سخنګوي استادرباني که درمورد تحرکات سیاسي اخیربخاطر حل صلح آمیز بحران خونین کشور سخن مي ګفت ازسخنانش چنان معلوم مي شدکه پروسه صلح سریع شده است .
مراد ګفت که وي همراه بایك هیئت

یك مقام اداره کابل اظهارداشته که درروابط میان اداره کابل ورقیب عمده آن جنبش ملي انکشاف بزرګ واساسي بمیان آمده است .
به ګزارش روزنامه فرانتیرپست به

روزنامه « سنګرام » طی سرمقاله اش :

اداره کابل اختلافات اش را با پاکستان حل نماید

داکه – ١٠ جدي :
اداره کابل بادرنظرداشت منافع مردم افغانستان ودرمجموع منافع امت مسلمه اختلافات اش راباحکومت پاکستان حل نماید .
این مطلب راروزنامه «سنګرام » چاپ داکه که ازروزنامه هاي معتبر بنګله دیشي بحساب میرود طي سرمقاله یي به اداره کابل پیشنهاد کرده است . روزنامه درادامه سرمقاله اش اضافه میکند که کفارمیخواهند مسلمانان راباهم درګیر سازند امابرمسلمانان لازم است که متحد ګردیده مشترکاً توطئه هاي جهان کفر راخنثي نمایند . دراخیر این سرمقاله ګفته شده که جهان کفرزماني به مقاصد واهداف شان پیروز میګردد که امت اسلامي دچار تفرقه شود ویك ملت مسلمان علیه ملت مسلمان دیګر به صف آرایي سیاسي ونظامي بپردازد .

دکابل په ښار باندی دتوغندیوحملی مخ په زیاتیدو دی

دوروستیو حملوپه ترح کی (١١) تنه مره او (٣٤) ټپیان شوی دی

کابل – دمرغومي ١١ مه :
دکابل پرښار باندي په دې وروستیو ورځوکي دتوغندیو حملي زیاتي شوي دي اودهري ورځې په اوږدوکي دکابل ښاردترغندیوهدف ګرځي .
دکابل نه په وارسیدلیو خبرونو کي ویل کیږي چې : دتیرو دوو ورځو په اوږدوکي ځوځلي دکابل ښارداسترګني سیمي دراکټي برید لاندې نیول شوي دي. دکابل په ښاربانديې توغول شوي توغندي چې زیات شمیرئي دمکروریانوټو په سیمه او یو توغندي دجمهوري ریاست سره نږدي لګیدلي دي چې دځلورځاشومانو په ګډون یې (١١) تنه وژلي او له (٣٤) تنوڅخه زیات شمیر کابل ښاریان ئې ټپیان کړي دي .
دکابل څخه راغلي عیني شاهدان

(٤)مخ

درطول سال ١٩٩٥ درحدود (١٥٠٠) افغان مشتبه و (٢٠٠) سیک درمرز طورخم بازداشت شده اند

(٥٠) جاسوس اداره کابل و (١٥) جاسوس هندی نیز شامل بازداشت شده ګان اند

پشاور – ١٠ جدي :
درطول سال ١٩٩٥ درحدود یك هزار وپنجصد افغان مشتبه ودوصدنفرسك درمرزسرحدي طورخم ازطرف افراد امنیتي حکومت پاکستان دستګیرشده اند.
طبق ګزارش منابع خبري پاکستان در میان افراد دستګیرشده پنجاه جاسوس (رام) مربوط اداره کابل وپانزده جاسوس (را) شبکه جاسوسي هند نیز شامل میباشند . مقامات امنیتي پاکستان ګفته اند که درجمله جواسیس دستګیرشده اداره کابل وهند سي ودوتن افراد نهایت ورزیده شبکه هاي جاسوسي نیزشامل میباشد که درعملیات تخریبي مهارت فوق العاده داشته وبه این افراد درکابل وهند تربیت خاص درامور جاسوسي وهمچنان هدایت داده شده بودتابعداز ورود به پاکستان اعمال تخریب کارانه را انجام دهند .
همچنان دراین ګزارش آمده است که درطول سال ګذشته عیسوي افراد امنیتي درمرزطورخم پنجصدمیل،یك صدوپنجاه میل راکت لانچر، هـژده فیر میزائیل مقداري مواد منفجره وتعداد زیادي سلاح هاي خود کارواکه به داخل پاکستان قاچاق مي شد بدست آورده و(١٨) تن افراد تخریب کارنیز بازداشت ګردیده اند .
منابع امنیتي پاکستان افزوده اندکه آنهادرطول سال ګذشته ازقاچاق بازازافغانستان به پاکستان به ارزش پنجاه لك روپیه وقاچاق تیل دیزل وپطرول به ارزش ده ملیون کلدار وقاچاق سامان وامتعه خارجي به ارزش پنجصد ملیون روپیه جلوګیري کرده انـد همچنان آنهاتوانسته اند ازقاچاق مـواد منفجره وسلاح هاي خودکاربه ایالت هاي پنجاب وسندنیزجلوګیري کنند .

سردار آصف احمدعلي وزیرخارجه پاکستان

ادامهٔ جنګ فعلی درافغانستان نتیجهٔ مداخله هندوستان است

پاکستان پابند پالیسی عدم مداخله درامور داخلی دیګرکشورها است

مادشمن یهود نیستیم ولی تا زمان حل جامع وعادلانه مسئله فلسطین وشرق میانه ، اسرائیل رابرسمیت نمی شناسیم

اسلام آباد – ١٠ جدي :
تازمانیکه مداخله هندوستان در امورداخلي افغانستان قطع نګردد صلح وامنیت دراینکشورتأمین نخواهد شد .
این مطلب راسردارآصف احمدعلي وزیر خارجه پاکستان طي کنفرانس مطبوعاتي در تالار پارلمان آنکشور که بمناسبت اعلام پالیسي وسیاست خارجي کشورش درسال (١٩٩٦) دایرکرده بود اظهارداشته است .
سردارآصف احمدعلي دراین مصاحبه ګفته است : که پاکستان وایران متحدانه کوشش دارند تاصلح وثبات درافغانستان استقراریابد اما عامل عمده ادامه جنګ فعلي در افغانستان ، هندوستان بوده تا زمانیکه مداخلات هندوستان درامور داخلي افغانستان خاتمه نیابد صلح وامنیت

ص(٤)

پولیس تورخم یك مهاجرافغان رادستګیرنمود

موصوف اتهام دخالت درهرګونه عملیات تخریبی رامردود خواند

پشاور – ١١ جدي :
مقامات امنیتي پاکستان یکنفر مهاجر افغان بنام عبدالمتین رادرسرحد تورخم هنګام عبور ازمرز دستګیرنمودند .
طبق ګزارش منابع خبري پاکستان ، نامبرده پس ازګرفتاري به تیم مخصوص که براي بررسي وتحقیقات انفجاربمب دربازار صدر پشاور موظف ګردیده سپرده شده است .
عبدالمتین کـه اسم پـدرش غلام جیلاني معرفي شده محصل صنف سوم پوهنتون کابل است ، هرګونه عضویت درګروه هاي افغان را ردمي نماید .
پولیس وي را بخاطري دستګیرنموده که اسم وي (عبدالمتین) با عبداللطیف که متهم به انفجار بمب دربازار صدر مي باشد مشابهت دارد ، شخص دستګیرشده درجریان تحقیق خودګفته است که ازچند ... سال بدین سودرپشاور مهاجربوده ویکروز بعداز انفجاربمب ازجلال آباد وارد پشاورمي شدکه درسرحد تورخم توسط پولیس بازداشـت شد . قراریك خبردیګرپنج نفر مهاجرافغان به ارتباط همین حادثه انفجاردرپشاور دستګیرشده اند .
پولیس پشاور اسماي آن هـارا

ص(٤)

اظهارنظردر مورد دیدوادیدهاي اخیر

احساس عمومي این است که جناحهاي شامل درقضیهٔ افغانستان لحن "ستیز" و "مقاطعه" را کنار بګذارند

* به این ارتباط مطلبي رادرسرمقاله مطالعه بفرمائید

خدای خبر چی ترڅو به په ګران افغانستان کی د وسلو خولی وازی اودمنطق لاری تړلی وی

شهادت

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

بیانگرعقاید وآرمانهای حزب اسلامی افغانستان

صاحب امتیاز: حزب اسلامی افغانستان

موسس: انجنیرحکمتیار

ناشر: ریاست ارشادوفرهنگ

سرمحرر: محمد نذیر«بشارت»

تحت نظر هیئت تحریر

تلیفون: ۲٥٦۳۷۸۹

آدرس پستی: ۱۰۳٦ یونیورستی تاون -پشاور

دیدوادیدهاي اخیر و درخشش امید ها

میتوان امیدواربود که اشتباهات غم آلود قبلي تکرارنشود ونتایج سودمندي از گفتگوهامرتب گردد

پس ازاینکه در۱۲ قوس اشغال ده روزه محبس پلچرخي توسط طالبان پایان یافت ونیروهاي طالبان دربي حمله متقابله اداره کابل درجنوب کابل عقب نشیني کرد، بازاررقابت هاي نظامي درحاشیه کابل رویسردي رفت . واین سردي درپهلوي وضع نا ملایم سیاسي، ودوربودن مواضع واهداف گروه هاي مخالف ومطرح ، سایه سرد دل تنگ کننده اي رادرکشور بوجرد آورد ،درین میان ازتاریخ ۱۲ قوس تاحالا کم ازکم ده بارشهرکابل هدف راکت وپنج بار درمعرض بمباردهوایي قرارگرفت که طي آن صدهانفرکشته ومجروح وخسارات بسیارزیاد مالي را باعث شد .

موازي به این جریانات ، وضع معاشي واقتصادي مردم درتنگناي زمستان بدترگردیدوقیم خوراکه ومواد اولیه بطورسرسام آوري بالا رفت .

تمام این مسایل، آزادگي وخفگان عمومي راازگروه هاي متحارب افزایش میداد و نقش وصلاحیت هاي آنها را بیش از هر وقت دیگرزیرسوال میبرد .

بي گمان در اثر همین فشار افکار عمومي ونارضایتي بي حد بودکه استاد رباني درهفتم جدي اعلام کردکه وي حاضرشده براي حل اختلافات کشورمستقیم باسران مخالفین به صحبت بنشیند وحتي بمراکز وشهرهاي آنهامسافرت نماید.

بیان استادرباني ازطرف ناظرین اوضاع بعنوان آشکارشدن یك نقطهٔ عطف درپالیسي اداره کابل مهم پنداشته شد زیرا درگذشته چنین پیشنهادي ازطرف استادرباني ویا سایر سران اداره کابل تکرارنشده بود .

انجنیرحکمتیار امیرحزب اسلامي درکنفرانس مطبوعاتي روز (۹) جدي شهرجلال آباد بطور مشروط ومحتاطانه اي درمورد این پیشنهاد خوشبیني نشان داد وخاطرنشان نمود که اگراین پیشنهاد ازروي صداقت باشد اقدام نیکي است .

درهمین آوان گروه طالبان که درابتدا وباعجله بیان استاد رباني راتکرارحرفهاي قبلي وهمیشگي رئیس اداره کابل خوانده وحل نظامي رایگانه راه حل قضیه وانمودساخته بودند، دو روز بعد دوباره بیان تازه داده واظهارنمودند که اگر تمام جوانب پیشنهاد رئیس اداره کابل براي آنها ارایه شود، شوراي طالبان درمورد آن غورخواهد کرد .

همزمان بااین انکشافات، گفتگو هاي نمایندگان اداره کابل چنانکه گفته میشود باحزب اسلامي درجلال آباد وسروبي باجنبش وحزب وحدت درمزارشریف وبامیان نیزصورت گرفته است .

براي مافعلاً این مهم نیست که درین گفتگو چه مسایلي مطرح میشود وطرف هاروي چه مواضعي پافشاري میکنند. ازهمه مهم این است که دروتنش ها و وتضادهاکمي نرمش بعمل آمده وریشه هاي و حسن نیت و درین خلال نمودار شده است . چنانچه میگرید جدیت اداره کابل درقضیه حل اختلافات این بار بحدي است که حتي آقاي اکبري یکي ازرهبران معترض حزب وحدت رابراي مذاکره ورسیدن به تفاهم به بامیان فرستاده است.

اگرچه تشویش بازهم موجوداست که این دیدوادیدها درغلاف یك مانوروسیاسي بماند واداره کابل ازآن درراه تفریق وتضعیف مخالفین وبیشتربراي ناهماهنگ کردن شوراي هماهنگي که دولت درعمل بیش ازطالبان ازآن حساب میبرد، استفاده کند ولي بروي تجربه ایکه گروه هاي مخالف در برابر هم پیداکرده اند، میتوان امیدواربود وانتظار داشت که اشتباهات غم آلود قبلي تکرارنشود ونتایج بهتروسالمتري ازاین گفتگوهامرتب شود . وکاري شود که فاصله ها نزدیك گردد ودراوضاع بحتلفان ومنجمد سیاسي کشور دگرگوني فراهم آید .

وضع کنوني رانباید باوضع سه سال ویا یك ونیم سال قبل که متأسفانه هردیداروملاکره درمعرض بهره کشي ها و استفاده جوئي هاي تازه قرارمیگرفت ، مقایسه کرد. تلخي هاوتجربه هاي اسف انگیز سه سال اخیر مزهٔ نزاع وجنگ رابراي تمامي طرفهاچشانده است وپایان مصیبت بار سفرخصومت رابه همه نشان داده است .

احساس عمومي این است که جناحهاي شامل درقضیه افغانستان درهرگامیکه میگذارند باید لحن وخشونت« لحن ومقاطعه» وستیزراکناربگذارند ودراعاده یك وضع سالم درکشور مسئولیت خودرا ایفانمایند .

شاید هیچ چیز ازپیشگاه تاریخ وازقضاوت مردم پنهان نماند . هرگروهي که بیشتر ایثارکندوبیشتر گذشت داشته و زیاتر وروشنتر به حق دیگران اعتراف واحترام داشته باشد، درپیشگاه تاریخ و مردم عزیز و مقلم خواهد بود .

په ترکیه کي داسلامي حزب «رفاه» دموفقیت نتایج :

ترکیه هم دالجزایر په قدم

دوهمه برخه

استاد قریب الرحمن "سعید"

خوایا دا چې په ترکیه کې به داسلامي حزب " رفاه " ته اجازه ورکړل شي چې ددغه هیواد تقدیر بدل کړي اوهلته داسلام عظمت بیرتهٔ بیا داسلامي نظام د پیاده کولو په شکل کې را ژوندي کړي ، یو مهم سوال تشکیلوي ځکه چې همدا اوس د ترکیې عسکري ځواکونه د تیارسي په حال کې دي تر څو د "رفاه " د ګوند دحکومت دجوړېښت څخه مخنیوی وکړي .

ددې ترڅنګ په ترکیه کې داسلامي ګوند " رفاه " دحکومت د جوړولو نه دمخنیوي په خاطر دترکیې غیر اسلامي ګوندونه هم په خپله نوې پالیسي کار کوي د ترکیې عسکري ځواکونو ددغه غیر مذهبي یا "سیکولر" ګوندونو دهلوځلو څخه ملاتړ اعلان کړي .

دترکیې دعسکري قواوو مشر جنرال اسمعیل قره داي عسکري قواوو ته په خپله وینا کې په واګه کړه چې د دترکیې عسکري ځواکونه دهرډول افراطیت په مقابل کې اصلاح غوښتونکې اوغیر متزلزل ځواکونه دي .

دانتخاباتو د پروسې د پیل نه دوه ورځې د مخه هم " قره داي " همدا ډول اظهارات کړي وو . دترکیې په اوسنیو انتخاباتو کې دغربي حلقو د توقعاتو پرخلاف دترکیې اسلامي حزب "رفاه " د ٥٥۰ پارلماني چوکیو څخه ۱٥۸ چوکۍ چې د نورو غیراسلامي ګوندونو په نسبت پوره برتري حسابیږي ترلاسه کړي دي .

په داسې حال کې چې د ترکیې د نفوس اکثریت مسلمان دي خو ترکیه د غربي شکله غیر مذهبي سیستم لخوا اداره کیږي.

خود ۱۹۲۳ عیسوي کال را پدېخوا د ترکیې عسکري ځواکونو ددغه نوي Modernدولت (داساسي قانون) چې د ناټو Nato د پکټ غړیتوب هم لري ددې ساتنه کوي .

نجم الدین اربکان په ۱۹۸۰ کال دنظامي حاکمانو لخوا هغه وخت زنداني شو چې دهغه اسلامي ګوند "رفاه " په ترکیې کې داسلامي نظام داحیا له پاره فعالیت کاوه د"رفاه " اسلامي حزب د ترکیې حاکم ګوند Truo Path Party دریښتوني لارې ګوند " په اوسنیو انتخاباتو کې د ۱۳٥چوکیو په ګټلو سره د اقتدار څخه راوپرزاوه . ددغه ګوند مشره Tansu chiller تانسو چیلر اودهغې پخواني اصلي رقیب اود moth er land party مشر Mesut yilmaz مسعود ایلماز په دمورنی ځمکې ګوند

خپلو منځو کې یو ځل بیا سرونه نژدې کړي ترڅو د یو ائتلافي حکومت په جوړولو سره داسلامي حزب " رفاه " دحاکمیت نه مخنیوی وکړي . خود چیلر او ایلماز ترمنځ شخصي رقابتونه به د ترکیې جمهور رئیس سلیمان دیمرل مجبور کړي چې داسلامي حزب " رفاه " مشر نجم الدین " اربکان " څخه دحکومت دجوړولو غوښتنه وکړي.

خودا چې ښاغلي اربکان ته به په داسې وخت کې چې ټول غیرمذهبي تنظیمونو ورسره ډېر ځای کېدو څخه ډډه کوي په دې وتوانیږي حکومت جوړکړي، لږڅه ګرانه ښکاري . د بلې خوا نه سختې هلې ځلې رواني دي چې دغیرمذهبي تنظیمونو ترمنځ دنژدې کېدو له پاره موانع له منځه لرې کړې شي . اوبو ځل بیا چیلر ته چې د نجم الدین اربکان دتنظیم پسې ورووسته دوهم حیثیت لري دحکومت د جوړولو فرصت په لاس کې ورشي . ددې هلې ځلو په لړکې کېدای شي چې ایلماز چې په اوسني پارلمان کې د ۱۳۱ چوکیو په اخستو سره دریم حیثیت لري د پخواني صدراعظم Bulent Ecevits بلنټ اجویټ سره چې د ۷٦ چوکیو په ګټلو سره څلورم حیثیت لري اتحاد وکړي . په دې اتحاد کې د ایلماز علاقه زیاته ده خو پخپله چیلر د خپل یو بل پخواني اتحادي تنظیم Republican Peoples party

چې په نوي پارلمان کې ٥۰ چوکۍ لري، داتحاد کولو له پاره ترجیح ورکړي .

د چیلر اوایلماز ترمنځ دقدرت په سررقابت هم اوج ته رسیدلی . ایلماز نه غواړي چیلر دوباره دترکیې دصدراعظم په حیث قبوله کړي . بلکه پخپله ایلماز ددغه پوست له پاره خپل ځان تر ټولو زیات ور ګڼي . دبل خوا نه د چیلر او بلنټ اجویت ترمنځ ائتلاف هم دستونزو ډك ښکاري ځکه د ترکیې اواروپا ترمنځ دتجارتي ترون په هکله دهغوي ترمنځ ډېر تضاد موجود دی . ایجویت غواړي ترکیه ددغه اتحاد څخه وکاږي - خو چیلر په انتخاباتو کې دترکیې او اروپا ترمنځ تجارتي ګډ پروګرام خپل موفقیت ګانه اوفخریې پرې کاوه .

د ترکیې دقانون مطابق دترکیې جمهوررئیس باید د اکثریت ګوند ته د حکومت دجوړېښت بلنه ورکړي.

اودغه بلنه د نوي عیسوي کال په دوهمه هفته کې هغه وخت یې د پارلمان غونډه جوړیږي ممکن ده . پخپله دترکیې جمهور رئیس دیمرل ددې منتظر دی چې د جنوري تردویمي هفتې پورې به ددغه نوېو اتحادونو څه ثمره مختمراشي او هغه به دیوه لوري ائتلاف ته چې اکثریت ولري د حکومت دجوړولو بلنه ورکړي.

تراوسه دامعلومه نه ده چې کوم لوري به په دغه اتحادونو کې بري ترلاسه کړي .

د"رفاه " اسلامي حزب اعلان کړی چې دنورو ګوندونو سره دحکومت دجوړولو له پاره ائتلاف ته حاضر دی . خو دهغوی داسلامي مشخصاتو په اساس نور ګوندونه نه غواړي د " رفاه " داسلامي حزب سره یوځای شي همدا راز ترکیې عسکري ځواکونه هم نه غواړي د" رفاه " اسلامي حزب په قدرت کې وویني او هڅه کوي چې غیرمذهبي ګوندونه سره په یوه ائتلاف کې راټول کړي . دبلې خوا نه دغیر مذهبي ګوندونو ائتلاف هم دپخوانیو تجربو په پرتله دومره موفقانه بریښي . نو که چېرې د دوارو خواوو څخه یوهم دیوه مکمل اتحاد اوثابت حکومت په جوړېښت موفق نشي نو په هغه صورت کې به دترکیې جمهور رئیس سلیمان دیمرل دخپل هیواد د اساسي قانون له مخې اختیار

تانسوچیلر

ولري چې پارلمان ملغیٰ اعلان او دنوي انتخاباتو له پاره نوې تاریخ اعلان کړي.

هغه څه چې دترکیې په اوسني تاریخي پړاو کې مهم دي هغه ددغه هیواد دعسکري ځواکونو دریځ دی، که څه هم ددغه هیواد جمهوررئیس ښاغلي دیمرل به د خپلو قانوني اختیاراتو څخه کار اخلي او دامکان په صورت کې به د" رفاه " اسلامي حزب ته د حکومت دجوړېښت له

> د"رفاه " اسلامي حزب اعلان کړي چي دنورو ګوندونو سره دحکومت دجوړولو له پاره ائتلاف ته حاضر دي . خو دهغوي داسلامي مشخصاتو په اساس نور ګوندونه نه غواړي د " رفاه " داسلامي حزب سره یوځاي شي همدا راز ترکیې عسکري ځواکونه هم نه غواړي د" رفاه " اسلامي حزب په قدرت کي ووینې او هڅه کوي چي غیرمذهبي ګوندونه سره په یوه ائتلاف کي راټول کړي .

پاره بلنه ورکړي . نو ګڼې د "رفاه " اسلامي حزب دحکومت د جوړولو موفق هم شي نو معلومه نه ده چې ښاغلي اربکان به د عسکري قواوو دتهدید نه په ډاډ ګڼګ پاته شي او په اطمینان سره به حکومت مخته بوځي ؟ لکه څنګه چې د ترکیې عسکري جنرالانو اعلان کړی دهغې اعلان په مطابق به په ترکیه کې به د " رفاه " اسلامي حزب ته دحکومت دجوړولو فرصت هیڅکله ورنکړل شي .بلکه یا خو به دغه انتخابات دالجزایر دانتخاباتو په څېر دعسکري ځواکونو لخوا،که سلیمان دیمرل ورسره موافق هم نه وي ، ملغیٰ اعلانیږي.

اویا ښاغلي اربکان به یو ځل بیا داسلامي فعالیتونو په جرم د ۱۹۸۰ کال په څېر د زندان تورو دیوالونو ته ځي او ګوند به یې غیر قانوني اعلانیږي .

اویا به دعسکري ځواکونو دخواهش اوغوښتنې مطابق انتخابات ترسره کیږي اودهغوی د خوښې شخص اوګوند ته به حاکمیت ورسپارل کیږي .

دترکیې ترمخه الجزایر هم دهمداسې سرنوشت سره مخ و. په الجزایر کې په ۱۹۹۱ کال اودهغې ترمخه لکه دترکیې په څېر بلدیاتي انتخابات ترسره شوي . په دغو انتخاباتو کې دالجزایر داسلامي نجات جبهې اکثریت وتونه ترلاسه کړل او په ټولو لویو ښارونو یې خپل ښاروالان وټاکل . عسکري ځواکونو داهرڅه لیدل خو په عمومي انتخاباتو کې دهغوی توقع نورڅه وه . هغوی ټول نور ګوندونه داسلامي نجات دجبهې په مقابل کې سره رایوځای کړي وو. خوداسلامي نجات د جبهې منتظمینو په پوره مهارت سره دالجزایر مسلمان ولس په خپل څنګ کې ودراوه او دعمومي انتخاباتو په لمړي پړاو کې یې پوره اکثریت ترلاسه کړ. خو دالجزایر عسکري قواوو ته د اسلامي نجات دجبهې حکومت دمنلو ور نه و نو ځکه یې بې له څه ځنډه دغه انتخابات ملغیٰ اعلان کړل اوداسلامي نجات د جبهې زیات شمیر فعالان یې دزندان تورو دروازو ته ورټېل وهل . ځینې یې دنظامي محاکمې له لارې اعدام کړل . تر اوسه پورې الجزایر دعسکري قواوود ظلم او تشدد په اساس اوداسلامي نجات دجبهې دمقاومت له مخې نژدې ٤۰۰۰۰ ځلوېښت زره الجزایریان وشړل شول .

دوام لري

حال دویلو لایق ندی

سیاست او تجارت

میوند

د تجارت اوسیاست ترمنځ فاصلې وخت په وخت لنډې شوي - تجارت اقتصاد دی چې اقتصادوي اوبښه دي سیاست هم کېدی شي اوبښه په خوند کېدی شي په تش لاس هیڅ نه کیږي - تش لاس دېښمن دي چې لاس ډك وي د ډك سر اوتش کدو په توپیر پسې ځوك نه ګرځي - ډك لاس د تش سر دیړ بڼه تلافي کولی شي .

د تجارت اوسیاست ترمنځ داسې یوه رشته ان له پخوا موجوده وه لکه ځینې چې دپولیسو او ژورنالیستانو ترمنځ ورته اشاره کوي .

خو د تجارت اوسیاست رشته ورځ په ورځ غښتلې شوې تردې چې دواړه یې یوبل ته ډېر نژدې او لازم او ملزوم ګرځولي دي نوري اوبکي دوخت په تیرېدو کمزورې کیږي او فاصلې پکې زیاتیږي خو دسیاست او تجارت فاصلې لنډېږي او اوبکي یې پیاوړې کیږي .

د ډېرو چې سرونه ډك وو خو لاسونه یې تش وو د وطنونو سر ګردان شول - نه یې چا په خوله د پیاز ټوټې کولو ته زړه وشو اونه یې هم چا په کوم پانګه کوم وخت روژه ماته کړه .

دا ماتې ګوډې د دې ځوتیروورځو ترهغو خبرونو پورې اړه لري چې له دوبۍ نه دصدراعظمي په هوس یوتجار پېښورته مخه کړې ده په دوبۍ کې د کابل سفیرهم له ځان سره ملګرې کړې اوکه هغه دې له ځان سره ملګری کړې خو دواړه ملګری شوي او په ګډه پاکستان ته راغلي دي .

دا دهغه تجار کیسه ده چې د تجارت په زور سیاست کوي زه دا نه وایم چې د تش سرتیسکړتیا په ډك لاس باندې پوره کوي خودا ضرور ویلی شم چې سیاست ته د ده راتګ د هغه تجارت برکت دی چې د دوبۍ الساتوي کرامت وربخښلی وُ اوکمونستانو خو اقتصاد هسې بېځایه زیرېنا نه ګاڼه که دا خبره له یوې مخې حقیقت ونه بولو نه له یوې مخې یې . ردول هم څه آسانه خبره نده .

پخواني پاچا عبدالمجید زابلي ځکه دتجارت او مالیې وزیرتاکلی ؤ چې سترتجارؤ او ددغه سترتجار دهېې په نمایندګۍ کې نورمحمد تره کی هم ماموریت درلود پدې توګه ویلی شو چې ښاغلي زابلي د همدغه تجارت یا هم اقتصاد له حکومت او سیاست ته برخمن وګرځاوه .

تجاران ډېرهوښیار او ځیرك وي دا احتمال هم موجود دی چې د دوبۍ افغاني تجار په دغه سیاسي اکټونو او مانورو خپل تجارت ته رونق او پراختیا ورکول غواړي .

داسې یومثال زموږ په مخ کې دښاغلي نوازشریف دی هغه د پاکستان په اصطلاح یو صنعتکار ؤ چې له صنعت نه یې دصنعت او اقتصاد په زور سیاست ته مخه کړه اونن لیډل ګیږي چې په پاکستان کې د یوه لوی سیاسي جریان مشري په غاړه لري .

داسې مثال هم شته لکه حاجي غلام احمد بلور چې خپله پانګه او راکړه ورکړه دسیاست په زور اوسپر ساتي پدې توګه دی دخپل تجارت حفاظت په سیاست سره کوي دا دواړه طریقې شته ، چلیزي اوله دوارو نه ښهٔ استفاده کیږي لنډهٔ داچې دتجارت اوسیاست ترمنځ اړیکې ښې پیاوړې دي اویوله بل نه پرته نشي ترسره کېدلی .

زموږ ډېرو قوماندانانو تجارت ته مخه کړې او په بهرنیو کمپنیو او شرکتونو کې یې پانګه اچونه پیل کړېده .

خبره دهغه افغان تجاروه چې له دوبۍ نه د صدراعظمي په نیت پېښور ته راغلی لومړی خو مطبوعاتو د هغه نوم لکه په صیغه رازساتلی ؤ خو د تلوېه وخت یوې خبروني دهغه نوم ځرګند کړ. ښاغلي حاجي خلیل په رښتیا هم په دوبۍ کې ډېر سترکار او بارلري او ډېرلوی تجار دی خو ده دتجارت لپاره پیسې او پانګه له چور چپاول او یا هم د مقاماتو او تنظیم له رحم او کرم نه نده ترلاسه کړې بلکې ده د خپل لاس له خواري نه ګټلې ، په حلاله یې ګټلې خدای (ج) دی وکړي چې همداسې یې په حلالو مصرف هم کړي .

اتفاقاً له ده سره مخکې څو ځله زما لیده کاته شویدي - حاجي خلیل د پکتیا ځدراڼ دی په افغانستان کې یې له رسمي مصروفیاتو خبرنه یم خو ځوکاله مخکې دجهاد په وختونو کې چې کله دی دخپل ولس اوکلي له تاویلي ماویلي په تنګ شو درزق حلال عبادت هرڅه له مخې دوبۍ ته ولاړ په خواري مزدوري سرشو او په څو کالو کې یې دخپل زحمت او تدبیر له مخې هلته دومره پانګه پیدا کړه چې د دوبۍ په ششتنو او پانګوالو یې هم ځان و پېژانده په پاکستاني مقاماتو یې هم خپله پیژند ګلوي تحمیل کړه او دا دی نن دصدراعظمي خوبونه همویني .

که په دوبۍ کې د کابل سفیر د ده پانګې ته څه چل نه وي جوړ کړی او د دغسې حلالې ګټې پانګه یې په یوه افغان تجار دکینې ا وحسد باعث نه وي ګرځېدلې نو حاجي خلیل ته لدغه ناولې او شرمېدلې سیاست نه هماغه دحلالې ګټې تجارت غوره دی په پاکستاني لوټ لیکل شوي دا جمله په رښتیا هم چې وجیزه ده حلال مال پیدا کول عبادت دی .

اوکه مطلب د وطن خدمت وي نو دا خدمت هم په هیواد کې ددغه حلالې پانګې له لارې د ښونځیو -مدرسو - روغتونو - سرکونواو پلونو په جوړولو اودعلمي او فرهنګي بنیادونو په رامنځته کولو ډېر ښه کېدی شي داپوه جاري صدقه ده چې د خاوندانو نومونه ترتله ژوندي ساتي .

رحمان بابا وایي :

نوم دګڼوه پادشاه هسې باديږي
لکه نوم دي دمجنون او دفرهاد

بعد از حمله راکتی شبانه مبارزان حزب الله برشمال اسرائیل ، یك قطعه توپچی نظامیان اسرائیلی برای ورود به جنوب لبنان آمادگی میگیرند

دروسانو دیرغل کلیزه وغندل شوه

جلوزي - دمرغومي

له ثقافت اسلامي دعالي ښوونځي لخوا دروسانودیرغل دشپاړسمي کلیزې په مناسبت ددي لیسې په انګړکي یوه غونډه جوړه شوي وه . دیپي له کتب څخه دشهادت خبریال خبرراکوي چې غونډه دتیري پنجشنبي په ورځ دسهارپه نهوبجوپیل شوه چې پرسلهاوزده کونکو اواستادانو برسیره دریم مخ

نصیبه څه درسره وکړم ؟!
درونـد ويـر !!

مغموم

افغانان نوم ورکي قوم نه دی، نوم ئي روښانه دي، هسي خوټوله نړي افغانان پيژني اوښه ئي پيژني . ځکه دتاريخ ډيري ستري حادثي دوي ته منسوبي دي خو دافغانانو په مينځ کي بيا دداسي کارنامو خاوندان هم شته چي پخپل خپل وار ئي په بوه برخه کي نوي ريکارډونه جوړکړي دي، داچي دنړي دخوارقوپه «ګينتيک» کي ئي نوم نه راځي عمده لامل ئي غريبي ده اودغريبانو څوک څه پروا لري ! که داسي نه وي نوپه نړي کي دي په دي څه کم دوه سوه زمامدارانوکي يوڅوک زمونږ دکابل دواکمن په څير راوښيي چي په يوه لاس کي ئي وسله ده اوپه بل کي علم‌پانه !!

خبرخبره راته اوږده شوه که دخپل اولسونو دهراتل !! په ټولوکارنامو اوعجايباتو غيږيزو سايي يوسترکتاب شي

خبره مو په دي کوله چي افغانان ډيرنيکمرغه خلک دي اودادي پوره دوه لسيزي خوددنيا دمطبوعاتو اوخبرنيومنابعو ترټولو ستره برخه ددوي ده ... کله ئي دشجاعت اوغيرت وتوري دي کله ئي دوينو اوقربانيو کيسي دي اوکله ئي بيا داختلاف او نفاق خبره دي ټولوکي ددوي دشهرت خبره په خپل ځاي ده ، ددوي يادونه ديوي خبروني دپښېرتيا نخښه ده .

هراخبره مو دنويو ريکارډونو وه ، زمونږ په قوم کي داسي خلک هم وو چي دنړي مثل شوي جنګي اصطلاحات ئي بدل کړل ... داسي خلک چي عام ذهنيتونه ئي واړول داسي قوماندانان وو چي په يوازي خان ئي پـه لسګونو الوتکي او ټانکونه رانسکوري اووبچاړکړل اوداسي قوماندانان هم چي ترسنګرپه لندن کي زيات ؤ خو دغيرت اوهمت اوازي ئي تراووسه‌دروتوبوري وتلي وي ... کله چي هغه پانه واوښته اوهيوادټول آمراتو! اوقوماندانانو ته په غنيمت پاتي شوتوتوي ريکارډونه نورهم ټينګ شول داسي ريکارډونه چي زمونږ دلارو يوه کوڅني تنګي دسويز اوپاناما ترکانال زيات عايدات درلودل .

چي بياهم زه دټولو له يادوني عاجزيم دساري په توګه زه دلته ديوه جنرال ، قوماندان اوريکارډجوړوونکي شخصيت لنډه يادونه په ځان پورګنم .

داښاغلي جنرال موسي خان دي چي په دي وروستيو کي دپاکستان دحکومت لخوادتامطلوب شخص په نامه له پاکستان نه وايستل شو .

جنرال موسي خان دخپل شهامت اوغرور پشپږه مظاهره دپاکستان دحکومت له دغه فرمان نه وروسته له وحدت ورځپاڼي سره په مرکه کي وکړه ، اودبوه جنرال په څيرئي دووفا، ټول پخوانيي ريکارډونه مات کړل ، جنرال موسي فرمايلي وو چي زه دهرپاکستاني محاکمي ته حاضريم که ماله دوي سره ديو ويښته خيانت کړي ؤ محاکمه دي شم ....

دهغه له دغه څرګندونو داسي حس کيږي چي ده ځان پاکستاني باله نه افغان . خو جناب ملامت نه دي، آخرافغانان په کوم بدمرغي نه دي لړل شوي چي څوک ځان ورته منسوب وبولي .

دافغان نوم خواوس عظمت ، عزت او شهرت نه دي پوتوردي چي په چاپوري شو تواوروبري پوري شي. نوجنرال موسي خان که ځان له دي توره پاک باله اوپاتي ځان تري پاکول غوښتي وي نو څه بده وه ؟!

ځيني خلک دده په دروستي مرکه خوابدي دي او اعتراض لري چي ده دافغانانو نمايندګي نــه ده کړي .

دااعتراض بيځايه ځکه دي چي موسي خان خو دافغانانونمايند نه ؤ هغه خو داستادرباني اواستادسياف نماينده ؤ نودوي دي خوانه بدوي چي دچاجمهورريس سرالګروي . دهغه اقتدار په سرال اوچنده روان وي نوقونسل به ئي څه داستقلال اوخپلي ارادي شي ؟!

دکابل واکمن که له روس اوهند سره تراداواړيکي لري جنرال صاحب بياپه هغوي برسيره له پاکستان سره داړيکو دعوه دارؤ، چي په وروستي مرکه کي ئي دغه اړيکي اودخپل ولي نعمت داحسان شکرډير په ښه طريقه اداکړي دي .

مونږ دجنرال صاحب په ماتم بنه پوه يو، دهغه د قربانۍ دروندوالي بنه حس کوو . آخر دبي حسابه ډالرو معاش اومصارف ،ترخپل حکومت زيات صلاحيت اوواک اوپه هفته کي يو دوه ځله په مطبوعاتو کي تاوده بيانونه اومرکي خو څه وړه خبره نه ده . هغــه اوس چي چيرته تللي هلته خيامرې اوسي اوپامرګ ته په انتظار ، اوهغه ځاي خو يوداسي ځاي دي چي سودا اومعامله پري کيداي شي خونوره‌څه پکي نشي ترسره کيداي . نومونږ دجناب سرقونسل جنرال - قوماندان موسي خان دروند ويرښه تره درك كولي شو!!

ځمالاسونه يي پخپلو سترګو اوسينه وموښل خوماځان ددي قابل نه باله

دوهمه برخه

محمداميري

مګرځيني تـي چـي دخداي دلاري ددښمنانو ترسرنګوني ثابت قدم وو، ناڅاپه دهغو دوستانوتر اغيزي لاندي راغلل، چي هغه په مستقيم ډول له روس اوهند څخه اوسپنه اوپيسي خوري . دپيسو خوندئي وڅاکه اووړته خوږي معلومي شوي. ځکه نن دتجارت په ميدان کي داخلك ډېنګلو ، موټرو او مڅکوپاڅه سوداګران دي . د ددوبرج جوړاوه ځيني کدانه شوه دغو خلکودخداي دلاري جهاد کاوه ، وړځني تجارت جوړشو. نن دخداي لپاره حتي يوه خبره هم نشي کولاي آوکه دوي صرف يوه حقه خبره کړي واي ، نو الله تعالي به دوي نور هم لوي کړي واي ، اوددوي په دي خبره به دمظلومو شهيدانو وارثان آرامه شوي واي ، خو دوي دهغوي دحق لپاره ، اودخداي لپاره جهاد څه چي يوه خبره هم نشي کولاي . داولي :؟

داپه دي چي دوي دجهاد په لارخوروان وو، اودخداي دمنګرانوترپاچاهي ړنګيدو خوثابت قدم وو، خوپه لار کي دشيطان په بل جال کي راغلل، اوهغه دحراموپيسو تجارت ؤ که په جلال آباد کي يوه جرګه کيږي، اوختمسيږي ، په غزني کي يا ګسره‌يز کښي ، شروع کيږي اوختميږي - مګر داقوماندان صاحبان اودقدرت خاوندان ،يوه خبره هم نشي کولاي، چي داڅه وو اوڅه وشول ، خداي ته مخ اوبنده ته شانشي کولاي، که خوله وازوي صرف همدومره اوپه همدي نيت ، چي پيسي په خوله کي ورواچول شي، اوخاموش شي .

ځکه ايمان اوس دي درجي ته رسيدلي، چي کاميابي په پيسو کي ده . ملګري ئي شهيدان شول چي بازان ول، اوس ميدان ټپوسانوته پاتي شــو، چي دمرداري اومړزګي عاشقان دي .مګرعجيبه ده ، دشيطان جالونه څومره ډير دي، اوڅومره دګمراهي رنګونه لري ؟

هغــه پخـواني دوستان ،هغه دخداي دلاري رهروانان او همسفر چي نن ئي داغبارجامه اغوستي ده ، اوپه مستقيمه توګه دشهيدانو له قاتلانو دنيا اودولت اخلي، اوبيا دهغه پـواسطـه دشهيدانو يتيمان وژني، خـداي پـه نافرماني

خوددريغا! افسوس ! راوبه نه ګرزي ، ځکه ته دخداي په نافرماني کي ډير پرمخ تللي ئي، تا اسلامي رنګ بدل کړي دي ، اوښکاره ددښمن په رنګ رنګيدلي ئي ، ګـمان نکوم چي راوبه ګرزي، مګرزمادعاده چي الله (ج) دي راوګرزوه ، زه بنده يم .

مګرافسوس دهغو دوستانو په حال ، چي دخداي لپاره دحق خبره نشي کولاي، دادوستان دي وپوهيږي ، چي دشريفو مسلمانو افغانانو اوددوي دسنګردملګرو له خوا دوي تراشتباه لاندي دي اوددوي په دي عمل اوس خبردي ، چي دوي ته دحق نه ويلو پيسي ورکول کيږي ، داعمل که خداناخواسته تکراريږي، دعملونو دضياع اوايمان دبربادي عمل دي .

ديوه حديث مفهوم راته يادېږي: « چي دانسان عمل داسي دي لکه ديوه څروب آس، کله چي په اول کي په دروازه ننوزي نوهغه خپل صاحب له ملونو يادوونيسي ، او بيرته ئي ګرزولي شي مګر که دهغه سراوتن په دروازه ننوزي ، اوبياني راګرزول او له لکي څخه نيول مشکل کاردي ».

مګردا دوستان دي وپوهيـږي، کـه دماديانو په ګند ګنده شول، بيا به پاکه خبره نشي کولاي، له پاکيو اوحق څخه به وېرېږي ، اوناپاکيو اودشيطان ډلي ته به پخپله ورځي، او کله چي په هغوي دالله تعالي حجـت تمام شي، اودخلکوبنيراوي دفتري درجي تـه ورسيږي ، بيادي دالله تعالي دشـديـد عـذاب انتظارکړي. ديهودانوپه فکراونظردي تـه اوسي، چي زمونږپلرونه پيغمبران وو. ځکـه الله (ج)

